انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۷/۰۲/۲۰

# په پردیو تکیه کول، پر خپلو بی باوری زیږوی

## دوهمه برخه

بلاخره د غازی محمد نادر خان او د هغه د نورو ورنو په مشری افغان ولس وکولی شول چی د جهالت او د غلو حاکمیت ته خاتمه ور کړی. ( ځنی پوهان په دی باوردی چی اصلاً انګریزی دولت همدا پلان درلود چی د جنرال محمد نادر خان په قدرت رسولو سره یو ځل بیا یو ګوداګی نظام په افغان ولس حاکم کړی تر څو دا وطن همداسی په سیاسی، اقتصادی او ټولنیز فقر کی و ساتی او په دی توګه خپلو راتلونکو شومو هدفونو ته د سردار یحیی خان د کورنی د زمامدارانو په وجود کی ځانونه ورسوی، خو ځنی بیا دا نه منی او نور د لایل وړاندی کوی. داچی کومه ډله قوی اسناد لری زما په خیر د یوه غیر مسلی شخص له پوهی نه وتلی خبره ده. زه یوائی همدومره پوهیږم چی د افغان ولس ارادی و کولای شول چی د غلو د واکداریٔ توره دوره پای ته ورسوی.)

محمد نادر خان هم په ولس باندی د تکیه کولو پرځای او د پاشان ملت د ټولو په ځای په خپله کورنی کی د واک د پاتی کیدو د پاره هلی ځلی پیل کړی، خو وی نه شو کولی چی ادامه ورکړی او ژر له منځه ولاړ. ترده وروسته یی بل ورور محمدهاشم خان د هیواد د صدر اعظم په توګه هیواد چاری تر کنترول لاندی ونیوی او د خپل وژل شوی مشر ورو نادرخان د پلان د تحقق د پاره یی د ولس په ټکولو او زبون کولو لاس پوری کړ. د محمدنادر خان زوی محمد ظاهر یی په ظاهره کی د پاچاهی په تخت کیناوه او نوریی په آزاد لاس او کامل اختیار سره د هیواد چاری سمبالولی.

په افغان ولس باندی د دی کورنیٔ د تسلط دوره تر د نیمی پیړی پوری دوام وکړ، که څه په دی اوږده دوره کی داسی کوم بنیادی او د ملت جوړونی د پاره لکه څنګه چی ورته اړتیا وه، هسی کار ونه شو خو د دی کورنیٔ د زمامداریٔ دوره په مجموع کی یوه ارامه او د افغانی قومونو تر منځ د سولی په فضا کی یو بل ته د سست نژدیوالی دوره وه، په دی دوره کی نه د خلکو د لیک لوست د پاره هسی کار وشو لکه څنګه چی ورته ضرورت و، نه د اقتصادی پرمختګ د پاره څه داسی اقدام وشو چی دا هیواد په نسبی توګه نورو ته د لاس اوږد ونی نه وژغوری. خو د دی ټول نیمګړتیاو سره سره بیاهم د پر مختګ په لور هم دولت او هم د دولت سره د همکاری د پاره ملت هم غږی شوی و او داسی ملی اراده را پیدا شوی وه چی افغان ولس باید پر مخ ولاړ شی او د آبادیٔ په لور ګا مونه او چت کړی او هغه ستونزی چی د دوی د پرمختګ په لاره کی پرتی دی له منځه یوسی.

دا پروسه هم هغه وخت پای ته ورسیده چی د (۱۳۵۲) کال د سرطان په(۲۶) د سردار محمد داودخان په مشریٔ یوه سپینه کودتا تر سره شوه. سردار داود خان د هیواد د آبادی او پرمختګ د پاره د وطن خلکو ته نوی وعدی ورکړی



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

او د خپلو پلانونو د تحقق د پاره یی نوی هلی ځلی پیل کړی، خو نتیجه یی څکه ور نکړه چی د ده پلانونو د وخت د شوروی اتحاد د دولت د هدفونو سره اړخ نه لګاوه. شوروی د یواځنی هغه هیواد و چی د افغان دولت سر یی تر ټولو نورو هیوادونو ښخه په دی هیواد کی د خپلو راتلونکو اهدافو د تحقق د پاره ډیره پانګه اچونه کړی وه ، نوځکه یی د سردار محمد داودخان په مشری د شوروی دولت ښخه د افغان جمهوری دولت لری والی او د دوی د سیاسی او اقتصادی تسلط نه د وتلو عمل و نه شو زغملی او نتیجه داشوه چی د (۱۳۵۷) شمسی کال د ثور د اومی ورځی د خونړی کودتا په سر ته رسولو سره د لومړی جمهوری دولت جرړی هم و وتلی او افغان هیواد د داسی یوی اژدها خولی ته ور ولوید چی هر څه یی تری واخستل او د ستر وحشتونو ټولی دروازی د دی بی وزلی ولس په لوری را بیرته شوی.

د شوروی اتحاد د کمونست ګوند د لاری پیرو د خلق دموکراتیک ګوند په مشری د ثور د اومی ورځی د خونړي بدلون کودتا چیانو په لنډ وخت کی د ټولو نورو ډلو او سیاسی عقایدو د لرونکو، په وژلو او بندی کولو (چی د دوی د لاری سره یی سازش نه درلود) پیل وکه او د یوه کال نه په کمه موده کیی په زرګونو هغه روښانفکران چی د دی غریب او نادار هیواد د غریبو خلکو د خولو په محصول یی زده کړی وی او د هیواد د راتلونکی نیک مرغی د پاره یوه هیله وه، داسی په اسانی سره نابود کړل لکه د قرباني پسونه. د دی تر څنګ یی ټوله دولتی دستګاه د داسی نا اهله، بی کیفایته، کینه کښو او بی باکو ګوندی غړو په لاس کی ورکړه، چی په ډیر چټکي سره یی ټول دولتي کاروکونکی هم بیکاره کړل او د کار په ځای په نوو جبری سیاسی درسونو بوخت شول.

د افغانستان په ټول تیر تاریخ کی دا تر ټولو هسی یوه د ولسونو د زړلو او تباهی د پاره زبونه ورځ وه چی په پیړیو پیړیو وخت به ونیسی چی د دی ورځی نه را زیږیدلی او را وتلی تخریبات او د افغان ملت ته رسیدلی زیانونه تلافی شی. په همدی ورځ په ولسونو باندی د اتکا او اعتماد پرځای په هغوی باندی د بدګمانی او که بهتره و ویل شی د ولسونو سره د دښمنی اساس کیښودل شو. په حقیقت کی همدا ورځ وه چی د افغان ملت د غرور او ویاړ ټول ځلی یی رانسکور کړل او د هیواد ټوله ویاړونه حتی آزادی یی هم په وړیا توګه پردیو ته وسپارل. همدا ورځ وه چی په دی وطن یی د نورو داسی تورو ورځو را تلو ته لاره خلاصه کړه چی تر دی د مخه یی د افغانستان په زرګونه کلن تاریخ کی نمونه ، نه وه لیدله شوی.

زمونږ په دری ژبه کی یو متل دی چی « از بد بدترش توبه»، افغان ولس په دی تکل کی و، او دا فکر یی کاوه چی څنګه د دی آفت او رانازل شوی مصیبت نه د خلاصون لاره ومومی، چی ناڅاپه د داسی یوه توفان سره مخامخ شول ، چی د یوی نارامی او د سپکو او درنو وسلو د بی شمیره ډزو نه د ډکی ویرونکی شپی په تیریدو سره،ږ سهار د هیواد د پلازمنی د کابل د ښار ټولی کوڅی او سړکونه د نړی د وخت د ستر زبرځواک شوروی اتحاد د سرو لښکرو ټانکونو او جنګی قوتونو نیولی او اشغال کړی و.

**دا توره او دیوه با ایمانه کوچنی او نادار هیواد په حریم باندی د تیری ورځ د (۱۳۵۸) کال د جدی د میاشتی شپږمه نیټه وه.**

همدا ورځ وه چی افغان ولس خپله هرډول آزادی د لاسه ورکړه او د هیواد د هرڅه واک د پرچم د کمونیستی ډلی د مشرتابه او دهغی په سر کی د رټلي ځیری ببرک کارمل له خوا د دی د پاره چی قدرت ته ورسیږی او د خپل سرسخت حریف حفیظ الله امین نه انتقام واخلی، ور وسپاره.

یادونه ( تر کومه ځایه چې تاریخی اسناد موجود دی د پخوانیو ټولو ګوډاګیو رژیمونو زمامدارانو لکه شاه شجاع، محمدیعقوب خان او امیر عبدالرحمن، د انګریزانو سره د یوه تړون له مخې، چې د دواړو لورو مسؤلیتونه پکې ښول شویدی، معامله کړیده. خو زه په دی نه یم خبر چې ایا د ببرک کارمل او شوروی دولت تر منځ داسی کوم تړون شوی کنه، که شوی وی جزئیات څه ډول دی او که نه وی شوی نو معنی یی داده چې بی له قیدو شرطه یی هیواد شورویانو ته ور تسلیم کړی و. که په دی هکله درنو محقیقینو او استادانو لکه محترم استاد دوکتور کاظم صاحب او محترم استاد اکاد میسن سیستانی صاحب ته څه معلومات وی او د درنو لو ستونکو سره یی شریک کړی ډیر به ښه وی. په درنښت کلیوال)

دا ورځ د یوی ستری غمیزی، لوی ناورین او د شلمی پیړی په اوږدو کی د افغانستان په تاریخ کی څه چې د ساړه جنګ له پیل څخه بیا تر ختمه پوری د نړی په تاریخ کی ، د ټول بشریت له خوا د سختی غندنی وړ ورځ وه او ده.
خو زما په نظر دی توری ورځی افغان ولس او د دی ملت راتلونکو نسلونو ته یوه څه ور وښول او هغه داچې د ملت ارادی ته، د ملت شریکی مبارزی ته، د ملت د تصمیم زور او قوت ته د دنیا هیڅ غاصب او استبدادی قوت ماته نه شی ورکولی، بلکی خپله له منځه ځی او حق بری ته رسیږی.

که څه هم تردی توری ورځی وروسته د ملت د بری ورځی هم له بده مرغه د نا اهله، بی کیفایته او د پردیو په لاس د جوړشوی مشرتابه له لاسه، ولسونو ته د نورو تاوانونو، کړاوونو،د ملی شتمنیو د لوټ اوتالان او د افرط ګیریو د تخریب د پاره د افغانستان د جغرافیی ټاکنه او داسی نورو ناوړو او ناسمو عملونو دسرته رسولو د پاره دلارو پرانستلو له کبله، بدبختی ورځی ګڼل کیږی او په رایادولو یی د ولس د خلکو په ذهنونو کی د کرکی او ویری بدی صحنی ګرځی را ګرځی، لکه د (۱۳۷۱) د ثور اتمه نیټه چې جهادی قوتونه د وحشت سره د کابل ښار ته راننوتل ، او وروسته بیا له څوکالو تنظیمی جنګونو او د هیواد د مکمل چور چپاول نه وروسته ، په پاکستان کی جوړ شوی طالبانی قوت په(۱۹۹۷) کال کی د افراطی نظریاتو او غیر اسلامی غوښتنو او کړنو سره د رنځیدلی او زخمی هیواد په کلو او ښارونو را نازل شول . دا ورځی هم افغان ولسونو ته د هغو تورو ورځو په څیر ښکاری لکه مخکی چې یی یاد ونه وشوه، ځکه دی ورځو هم داسی حالت یی په دی ولس روستلو چې تاریخ یی مثال په حفاظه کی نه لری.

د (۲۰۰۱) د سپتمبر د (۱۱) د زړه بوګنونکی پیښی نه وروسته چې د امریکی د پوځی ګزارونه بیا د زخمی افغانستان په وجود پیل شول او افغانی ولس یی د تنګنظرو طالبانو او افراطی اسلامی ډلو له تسلط نه چې هیڅکله یی په خپل مسلمان ولس او ملت باندی نه یواځی داچې تکیه نه درلوده بلکی د ولس په وړاندی یی د هغی بدبینی له مخی چې پاکستانی او عربی جاهلانو ورته په زړونو کی اچولی وه، داسی ضد انسانی اعمال یی سرته ورسول، خلاص کړل، خو د دوی په ماتی سره د هیچا له خولی نه ځکه آه و نه وته چې: (جانانه څه به دی را یاد کړم ـــ چې ناکردی دي یادوم ژړا راځینه)

خو وروسته څه وشول؟ افغانستان ته د امریکی په مشری د ناتو د قوتونو راتګ د نیک مرغی په ځای بیا د داسی توری نیټی پیلامه شوه چې د هر ډول فساد، بی اعتمادي، خودخواهی او د مال دولت د پیدا کیدو سره د لیونی مینی حس دومره را قوی شو چې نور افغان ملت د یوه واحد ملت په توګه له منځه ولاړ، قومی، ژبنی او عقیدوی عقدو دومره ژوری ریښی وزغلولی چې دهغی توری ورځی راتګ ته یی زمینه برابره کړیده چې دا د پیړیو په اوږدو کی

را آباد شوی هیواد افغانستان د تجزیی او ټوټه کیدو کندی ته ور و غورزوی او بیا له هر وړی ټوټی نه پ جلا جلا بڼه ګاونډی هیوادونه د غیرت لرونکی افغان له بچو نه غلامانو په څیر ګټه واخلی. ( دا ورځ دی هیڅکله را نه شی).

زه په آخر کی ټولو موجوده افغان مشرانو، زمامدارانو، چارواکوپوهانو او خصوصاً د ځوان نسل نه په کلکه د دی غوښتونکی یم، چی یو پربل اعتماد وکړی، یو بل ته ورنژدی شی او په خپلو خلکو او خپلو ولسونو باندی متکی شی، په نورو اتکا د خپل زوال د پاره یوه ډیره خطر ناکه لوبه ده، نه د بری او سر لوړی د پاره. پری په یووالی کی دی نه په لریوالی کی. په درنښت.

پای